# رسول الله صلى الله عليه وسلم په فيصله کې په رشوت ورکوونکي او رشوت اخيستونکي لعنت ويلی دی

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم په فيصله کې په رشوت ورکوونکي او رشوت اخيستونکي لعنت ويلی دی.
[صحيح دی] [الترمذي او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم رشوت ورکوونکي، رشوت اخيستونکي او رشوت قبض کوونکي ته د الله له رحمت څخه په لرې کېدلو او شړلو سره ښېرا کړې ده. لدې څخه هغه رشوت هم دی چې قاضيانو ته ورکول کيږي تر څو په ظلم سره پرېکړه وکړي او له لارې يې رشوت ورکوونکی خپل مراد ته په ناحقه ورسيږي.